## پښتو

### ولي محمد طوفان

ګران دې وي په ځان کله ايسار يمه پښتو
ځار يمه پښتو له تا نه ځار يمه پښتو

ځومره بېداري ده ستا د مينې په نشه کښې
ستا چې لېونے يمه هوښيار يمه پښتو

ننګ چې د خوږې پښتونولۍ سره ونۀ کړم
نور ځۀ له پاللے مور او پلار يمه پښتو

کاشکې چې خوارۀ وارۀ وګړي را يوځائے کړم
خوښ د دې ګلونو په پوهار يمه پښتو

مينه، وروروليِ، اوچت اخلاق مې بال و پر دي
غـږ د پلرګنو د افتخار يمه پښتو

ځول وي کۀ طوفان د هر يو ګل به دې کځے يم
تۀ ئې باغ بارې زۀ دې ماليار يمه پښتو

### پروفېسر محمد اسلام ارماني

مونږ د تيارو دښمنان مونږه د رڼا ملګري
ماته صفا ووايئ تاسو يئ د چا ملګري

زما خوږو ملګرو! وخت دے، چې مونږ يو موټے شو
ګنې سبا به مو هيڅوک نۀ وي په شا ملګري

مونږ د رهزن په خوږه ژبه يُو تېروتي مدام
راشئ خبر کړئ نن د خپلې مدعا ملګري

بېدار شئ پاڅئ په خوبونو سحر نۀ شي مونږ ته
د قام زلمي ځان سره يو کړئ خامخا ملګري

چا چې د خپل غرض د پاره تل دروغ وئيلي دي
څنګ به هغو باندې به وکړي يقين بيا ملګري

زمونږ د سر غليم دې غواړي د خپل سر خېرونه
دلته د مرګه نۀ ويرېږي په رښتيا ملګري

د ارماني ملګري ټول په خپله خاوره مئين
دغه ملګري ئې دي ټول د پښتونخوا ملګري

### خوشحال خان مفتون

هم ئې کوي هم وائې ښۀ ونۀ شو
په ما په دې کوڅو کښې څۀ ونۀ شو

د هغه تېرو پښتنو په قدم
د اوسنو پښتنو تلۀ ونۀ شو

چرته په هېره هم زما د ښکلي
زمونږه کلي ته راتلۀ ونۀ شو

په شونډو دېر ځله بلا لوظونه
راسره وشو خو د زړۀ ونۀ شو

داسې سپرلي دې په بلا ولګي
په انګو کښې چې دې سرۀ ونۀ شو

رنګ رنګ چپې چپې ښائسته ګلونه
دا ځل په سمه او په غرۀ ونۀ شو

د چا ازار دے کۀ نظر خوشحاله
لا چې په ژوند کښې دې خوارۀ ونۀ شو

### آصف جان آصف

تا ته ښودلے نۀ شم لاره، تۀ به څنګه راځې
يو شان خبمې دي زما ياره، تۀ به څنګه راځې

مونږه کډوال يو مونږه دلته کښې څوک نۀ پېژني
زما د خوږ زړګي قراره، تۀ به څنګه راشې

بس سحر کېږي ماښام کېږي د اميد په طمع
د کلي غم کړمه بيماره، تۀ به څنګه راځې

ګله! کۀ کېمپ ته زمونږ راشې خو ما نۀ شې لېدے
هسې له ورايه خېمې ښاره، تۀ به څنګه راځې

چې په بټ خبله د کوچيانو کډې تلې آصفه!
جانان ژړل مې بې اختياره، تۀ به څنګه راځې

## پښتون منصور

**ډاکټر محمد زبير حسرت**

(د شهيد ډاکټر نجيب په ياد کښې)

سرخي د شفق نۀ ده، نۀ سور اور دے په اسمان کښې
ګل رنګ د چا د وينې دے، چې خور دے په اسمان کښې
د چا د ژوندون وچې کړسې، پاڼې سيلۍ باد کړې
دا شور زما د ذهن دے، کۀ شور دے په اسمان کښې
تل ما غوندې راخېژي د حالاتو په تيارو کښې
دا ستورے د مابنام هم زما ورور دے په اسمان کښې
زما د برخې نمر کۀ تندر ونيوۀ تيارۀ شو
ځيګر د سپوږمۍ هم له غمه تور دے په اسمان کښې
زما د نصيب ستورے زاره چاودے چې ګوزار شو
د غم د تورې شپې څادر راخور دے په اسمان کښې
سپوږمۍ، ستورو، نمرونو باندې څۀ وکړم لاليه!
ستا کور دے په دې زمکه د دوي ګور دے په اسمان کښې
شهيده! ستا په ياد کښې د سپوږمۍ تمبل غرېږي
اتڼ د رڼو ستورو ټنګ ټکور دے په اسمان کښې
پښتو نيمګړې مۀ شه، پښتونخوا نيمه خوا مۀ شه
حسرته! زۀ منمه چې ډېر زور دے په اسمان کښې

## اجمل شاکر

بل په ما اور دے ورله څۀ نوم کېږدم
دشمن مې ورور دے ورله څۀ نوم کېږدم
د ښائستونو په دا خور وطن کښې
هر يو مخ تور دے ورله څۀ نوم کېږدم
ستا په نښترو او ممانو پسې
زړۀ مې نسکور دے ورله څۀ نوم کېږدم
نوم، نخښه، کلے زما هر څۀ لاړل
ښمه مې کور دے ورله څۀ نوم کېږدم
چرته دشمن نۀ ښکاري خپلو کښې مرو
د پېښې زور دے ورله څۀ نوم کېږدم

## اجمل يوسفزے

خوږې د ننګ او د غېرت د پښتنو سندرې
چرته کښې ورکې شوې د دې لارو کوڅو سندرې
خلق پردي شو چاپېرچل محسوسومه پردے
چې پښتنانۀ بچي مې وائي د پردو سندرې
تورو تيارو کښې راته هم روښانه لاره ښيي
دا ځينې ځينې د رڼا د پلوشو سندرې
زۀ تماشګير نۀ يم صفا صفا خبرې کوم
دوي سپرلي نۀ غواړي خو وائي د سپرلو سندرې
پښتنانۀ مړۀ دي چې حقونه ترې پردو وتروړل
اجمله مۀ وايه دې مړو ته د جذبو سندرې

## فرمان خيالي

کۀ يو ننګ شي يا يو سر شي يو افغان
په دنيا به پاتې څۀ شي بل انسان
نن چې يو بل نه غافله دے تالا شو
راخستل دې خپله نخښه خپل نشان
زمونږ برخه د قسمت خو خواره نۀ ده
مونږ په خپله يو دپاره د تاوان
د خوشحال په تاريخ واچوئ نظر لږ
چې ئې نوم د ننګيالو کړو جاوېدان
چې دا حال د پښتنو مې په نظر شي
آه د زړۀ مې خُلې له راشي په ارمان
د ولي او باچا خان د ژوند کردار کښې
تالا شوي چرته نۀ وو بندګان
دا چې سل ځلې وېنا مې ورته وکړه
خدائے دې پوهه کړي زما ورونه نادان
ژوند به ستا په محبت کښې ټول تمام کړم
اے پښتونه! کۀ رښتيا شوې تۀ يو ځوان
زړۀ سورے زما د سوي ځيګر چغې
زۀ فرمان خيالي ليکم د غم بيان

## احمد حسن حسرت

اوس لـه تاريخـه نـوم زمـا ورانــوي
څــوک رالــه ځلـے د بابـا ورانــوي
څومره کم عقل دے نادان دے اغيار
دربـار د زړونــو د باچـا ورانــوي
چـا قهرولـــي دي ړانــدۀ غېبانــۀ
د شــپې تاخونــه د رڼـا ورانــوي
رامعلـــومېږي نجـــدي خويونـــه
د عقيـدت خـونې هـر خـوا ورانـوي
د شــر مئينــو د محشــر نــه توبــه
مـونږ لـه دنيا ځـان لـه عقبا ورانـوي
پـه لـر و بـر کښـې فـرق پـاتې نـۀ شـو
څـۀ پـه بېگـا څـۀ پـه سبا ورانـوي
د امــن ســاز د جنــگ پــه ډول غــروي
چې شور ئې خور دے اېشيا ورانـوي
د صـبر حـد مـې پـه سـرحد ولگېـد
چې رالـه روغـه پښـتونخوا ورانـوي
حسـرته! څـۀ شـو د دې كـور وارثـان
چې څوک ئې پټ څوک برملا ورانوي

## وصال محمد خليل

پـــه زړۀ کښـــې درد لرمـــه اور لرمـــه
د نفرتونـــو چـــم کښـــې کـــور لرمـــه
چـې تجـارت مـې د سـلگو کـړے دے
خـود بـه پـه خپـل کالۀ کښـې شـور لرمـه
سـتا لـوپټـه مـې لـۀ هـر داغ سـاتلې
زۀ كـۀ پـه خپـل څـادر کښـې تـور لرمـه
زۀ د خپـل مـرگ دعـوې پـه چـا وكړمـه
زۀ چـــې همـــراز لرمـــه ورور لرمـــه
عبـث دے سـوچ د جمعيـت وصـاله!
د قـام د سـوچ مرکـز چـې خـور لرمـه

## اکبر سيال

زمکـــه ټـــالى وهـــي ړقېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
د وطـــن ټـــول غرونـــه درزېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
تـۀ د اسـمان پـه چـت ولاړ ئـې تماشـه ئـې كـوې
زمـــونږ پـــه كـــور گـــولۍ ورېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
د مـرگ غـدۍ كلـي پـه كلـي چـم پـه چـم پرېوتـه
پـــه نيمـــو شـــپو كـــډې بـــارېږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
بيـــا تكـــې تـــورې بـــلا شـــپې داړې راوباســـي
ســـتوري اوتـــر ســـپوږمۍ رپېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
پـه غـم كښـې غـم پـه جنـازه كښـې جنـازه جـوړه شـي
د بـــم دپاســـه بـــم ډزېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
د دې جنـت جنـت وطـن سـپين او سـپېڅلي خلـق
د سُـــور دوزخ پـــه اور ســـوزېږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
پـه وطـن خـړ سېلاب راغلـے خـو لاس نـۀ وروړي څـوک
خلـــق پـــه خټـــو كښـــې ډوبېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
د دنيـا ټـول ښـكاريان راغلـي دي ټوپكـو پـه لاس
د پښـــتنو نســـل ختمېـــږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر
ســياله دا ســتا لېـونۍ تنـده عجيبـه تنـده ده
بيـــا د لمبـــو پـــه ســـيند گـډېږي خدايـــه خېـــر
يـــه خدايـــه خېـــر